د افغانستان اسلامي جمهوریت

د عدلیې وزارت

جمهوری اســــلامی افغانستان

وزارت عدلیه

# د عدلیې وزارت

# د (۱۳۹۹) مالي کال د لاسته راوړنو او فعالیتونو راپور

۱۳۹۹ کال

**د مطالبو نوملړ**

شالید ........................................................................................................................ ۲

د راپور لنډیز ........................................................................................................................ ۲

د پلان شوو فعالیتونو د تحقق راپور ........................................................................................ ۳

د بشپړو شوو فعالیتونو طبقه بندي او د هغو پایلې .................................................................. ۱۰

ب:ځنډول شوي فعالیتونه ......................................................................................................... ۱۸

ج: نا پیل شوي فعالیتونه ........................................................................................................... ۱۸

عمده ستونزې او پېشنهادي طرحې ........................................................................................... ۱۹

له پلان څخه بهر بشپړ شوي فعالیتونه ....................................................................................... ۱۹

د ۱۴۰۰ مالي کال لپاره پلان شوې عمده برنامې ......................................................................... ۲۱

ضمیمې ................................................................................................................................... ۲۳

(۱) ګڼه ضمیمه : د ۱۳۹۹ مالي کال عواید( په افغانیو)................................................................. ۲۳

(۲) ګڼه ضمیمه؛ د ۱۳۹۹ مالي کال عادي او پرمختیایي بودجه ....................................................... ۲۴

(۳) ګڼه ضمیمه؛ د وزارت / اداري تشکیل: ................................................................................ ۲۵

## شالید

د افغانستان اسلامي جمهوریت د عدلیې وزارت د حکومت یو له مهمو او کلیدي وزارتونو او د افغانستان د عدلي او قضایي سکتور نژدې او دایمي همکار دی، دغه وزارت د تأسیس له وخته تر اوسه د قانون جوړونې او د حقوقي او ملکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخو کې مهم ځای درلودلای دی.

د راتلونکي لپاره د عدلیې وزارت لید لوری په ټول هېواد کې د قانون له واکمنی او عدالت ته له لاس رسي څخه عبارت دی په داسې حال کې چې د وزارت ستراتیژیکه موخه د عدلي سیستم غښتلتیا او په ټول هېواد کې په متوازن ډول خلکو ته د عدلي او حقوقي باکیفیته خدمتونو وړاندې کول جوړوي.

پر دې بنا عدلیې وزارت خپله بودجه د دریو برنامو(د قانون جوړونې چارې، حقوقي خدمتونه او اداري او مدیریت) پربنسټ تنظیم کړې ده.

( سرچینه: د وزارت ۵ کلنه ستراتیژي ″قانون اوعدالت″لومړی فصل ۱ مخ).

## د راپور لنډیز

د عدلیې وزارت په ۱۳۹۹ مالي کال کې ټولټال ( ۷۳ ) عمده فعالیتونه پلان کړي وو چې له جملې یې (۳۹) فعالیتونه بشپړ شوي دي. د (۲۵) په شمېر فعالیتونه د اجرا په حال کې دي، (۹) فعالیته د ستونزو له امله پیل شوي ندي.

د عدلیې وزارت د ټولو فعالیتونو د پرمختګ د سلنې اوسط یې (۷۲،۵۷٪) ته رسېدلی دی.

| د پلان شوو فعالیتونو مجموع | بشپړ شوي فعالیتونه | داجراء په حال کې فعالیتونه | ځنډول شوي فعالیتونه | ناپیل شوي فعالیتونه |
|---|---|---|---|---|
| ۷۳ | ۳۹ | ۲۵ | ۰ | ۹ |

## د پلان شوو فعالیتونو د تحقق راپور

لاندې جدول د عمده فعالیتونو د پرمختګ میزان ښيي.

| اصلي موخه | په کال کې د موخې مقدار (Target) | د عمده فعالیتونو عنوان | له پلان سره سم د پرمختګ سلنه |
|---|---|---|---|
| د اداري د معلوماتي سیستم پیاوړتیا | د بشري سرچینو، اړیکیو او احصایې معلوماتي سیستم | د برېښنایي حاضرۍ د سیستم رامنځته کول | ٪۱۰۰ |
| | | د اداري لیکونو د برېښنایي سیستم پرمختیا | ٪۰ |
| | داخلاقي او حقوقي منشور د تابلوګانو برابرول او نصبول | په ټولو دهلیزونو کې د اخلاقي، حقوقي منشور او د مراجعینو او کارکوونکو د متقابلو دندو د تابلوګانو نصبول | ٪۵۰ |
| د کاري فضا خوندیتوب | د عمل د پلان پرمختیا | د ترسره شوو ارزونو د موندنو پربنسټ د ننګونو د لرې کولو لپاره د عمل د پلان پرمختیا او تطبیق | ۵۰٪ |
| د تقنیني سندونو طرحه، تسوید او تدقیق او په خپل وخت د هغو له پړاوونو تېرول ، چاپول او خپرول | ۲۱ عنوانه قوانین | په مدني، جزایي، اقتصادي او سوداګریزو برخو کې د (۲۱) عنوانه قوانینو طرحه، تسوید او تدقیق | ٪۱۰۰ |
| | ۲۷ عنوانه مقررې | د (۲۷) مقررو طرحه، تسوید، تدقیق او بیا کتنه | ٪۱۰۰ |
| | ۲ اساسنامې | د (۲) اساسنامو طرحه، تسوید او تدقیق | ٪۱۰۰ |
| | د (۲۷) مواردو په شمېر د تقنیني سندونو تعدیل | په تقنیني سندونو کې د (۲۷) مواردو تعدیل | ٪۱۰۰ |
| | ۱۸ عنوانه تقنیني سندونه | د هغو (۱۸) تقنیني سندونو تسوید او تدقیق چې په اساسي قانون او له فساد سره د مبارزې په ملي ستراتیژۍ کې ورته په څرګند او ضمني ډول اشاره شوې ده. | ٪۶۱،۱ |
| | ۸۰ تقنیني سنده | د (۸۰) تقنیني سندونو چاپول او خپرول | ٪ ۷۰ |
| | ۱۴۴۰۰ جلده | (۱۲۰۰۰) جلده د عدالت د میاشتنۍ او (۲۴۰۰) جلده سوداګریزو نښو او سندونو چاپول او خپرول. | ٪۵۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د قوانينو، حقوقي، عدلي او قضايي چارو په هکله عامه پوهاوی | ۲۴۰۰۰ ګڼې | د حقوقي پوهاوي د مياشتنۍ د (۲۴۰۰۰) ګڼو چاپ، خپرول او وېشل | ٪۲۹،۱۶ |
| | ۱۰۰ مرکې | د وزارت د مقام او اړوندو څانګو په واسطه له رسنيو سره (۱۰۰) ځله مرکې | ٪۳۲ |
| | ۶۴ رسمي محفلونه او مطبوعاتي کنفرانسونه | د وزارت د (٦٤) رسمي محفلونو او مطبوعاتي کنفرانسونو له بهير څخه د انځور، فلم، خبر او مطبوعاتي اعلاميې برابرول او خپرول | ٪۱۰۰ |
| | د ۶۰ په شمېر اطلاعات | اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون پربنسټ غوښتونکو ته د (٦٠) ځلو اطلاعاتو وړاندې کول | ٪۱۰۰ |
| | د (۲۰) ګڼو رسمي جريدو خپرول | د عدليې وزارت په وبسايت کې د (۲۰) ګڼو رسمي جريدو خپرول | ٪۱۰۰ |
| | د (۱۲) لستونو خپرول | د ګوندونو، ټولنو، رهنماوو، مجلو او مياشتنيو د (۱۲) ګڼو احصايو خپرول | ٪۱۰۰ |
| | ۱۵ ښوونيزې برنامې | د عامه پوهاوي مبلغينو لپاره د ۱۵ ښوونيزو برنامو جوړول | ۱۰۰٪ |
| | ۴ عنوانه حقوقي مطلبونه | د عامه پوهاوي د زياتوالي په منظور د (٤) عنوانونو د حقوقي مطلبونو برابرول او خپرول | ٪۱۰۰ |
| | د (۷۵۰۰۰) تنو ته د پوهاوي ورکونه | د سيمينارونو د جوړولو، د تبليغاتي پاڼو او حقوقي پوهاوي د مياشتنۍ د وېش له لارې د هېواد (۷۵۰۰۰) تنو اتباعو لپاره د حقوقي پوهاوی ورکونه | ٪۹۷،٦ |
| د حقوقي خدمتونو وړاندې کول | له (۹۰۰۰) تنو سره حقوقي مرسته | په مرکز او ولايتونو کې د ماشومانو، ښځو، د معلوليت لرونکو اشخاصو، بېرته راستنېدونکو، کورنيو بې ځايه شوو، بېوزله کډوالو او پناه اخيستونکو او د يادو شوو جرمونو قربانيانو ته د لومړيتوب ورکولو له لارې (۹۰۰۰) تنو مظنونينو، تورنو، د شکنجې د جرمونو او جنسي تيري قربانيانو ته د حقوقي مرستو وړاندې کول | ٪۹۳،۳ |
| | د (۷) کړنلارو برابرول | د کم لګښت په بدل کې د حقوقي عامه پوهاوي د کړنلارې، د حقوقي مرسته کوونکو لپاره د نظارتي کړنلارې، د حقوقي مرستو له ډيتابيس څخه د ګټې اخيستنې کړنلارې، د بېوزلۍ د فورم د موندنې او بررسۍ کړنلارې، د باورليک د ورکونې کړنلارې، د حقوقي | ٪۷۱،٤ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | مرستو د مالي صندوق له وجوهو څخه د ګټې اخیستنې د کړنلارې او د حقوقي مرستو د وړاندې کولو د کړنلارې برابرول | |
| | (۱)هوکړه لیک | د وړیا دریو قضیو د پرمخ وړلو په اړوند د افغانستان د مدافع وکیلانو له خپلواک انجمن سره د هوکړه لیک طرحه او برابرول | ۱۰۰٪ |
| | د (۲۰۰۰) تنو لپاره حقوقي مشوره | د هېواد (۲۰۰۰) تنو اړمنو اتباعو لپاره، د حقوقي مساعدینو او حقوقي عامه پوهاوي د مبلغینو او د ۱۸۸ شمېرې په واسطه د حقوقي مشورې د مرکز له لارې، د حقوقي سلا مشورو وړاندې کول | ۱۰۰٪ |
| | د (۸) ورکشاپونو جوړول | د حقوقي عامه پوهاوي له کارکوونکو څخه د (۵۵) تنو لپاره د (۸) ورکشاپونو جوړول | ۱۰۰٪ |
| | د عامه پوهاوي د ستراتیژۍ د (۲۵۰۰) جلده چاپول او خپرول | د (۲۵۰۰) په تعداد د حقوقي عامه پوهاوي د ملي ستراتیژۍ چاپول او خپرول | ۰٪ |
| | د (۴) دورو کنفرانسونو جوړول | د مرکز او زونونو په کچه د حقوقي پوهاوي د ملي ستراتیژۍ د کنفرانسونو د (٤) دور جوړول | ۰٪ |
| | شکایتونو ته د رسیدګۍ د لایحې برابرول | د مساعدینو او وړیا قضیو حقوقي وړاندې کوونکو مؤسسو شکایتونو ته د رسیدګۍ د لایحې برابرول | ۱۰۰٪ |
| | د حقوقي مرستو د ملي پالیسی وروستي کول | د حقوقي مرستو د ملي پالیسی وروستي کول | ۱۰۰٪ |
| | (۱۳۰۰) قضیې | درې ګونو محکمو ته له ارجاع څخه مخکې د (۱۳۰۰) شخړو او حقوقي قضیو حل او فصل | ۱۰۰٪ |
| | (۴۵۰۰) دوسیې | د محکمو د قطعي او نهایي پرېکړو د (٤۵۰۰) په شمېر د حقوقي دوسیو تطبیق | ۱۹۸٪ |
| | د (۳۵۰۰۰۰۰) افغانیو تحصیل | د حقوقو له محصول څخه د (۲۵۰۰۰۰۰) دوه میلیونه او پنځه سوه زره افغانیو او د عریضو د حق الثبت د (۱۰۰۰۰۰۰) یوه میلیونه افغانیو تحصیل | ۱۰۰٪ |
| | د (۳۹۸) قضیو د محصول تحصیل | د کابل ولایت د حقوقو د ریاست له لارې له ۱۳۸۶ کال څخه تر ۱۳۹۴ کال پورې د(۳۹۸) قضیو د محصول تحصیل | ۰٪ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | د تېرو کلونو د قضیو د (۲،۶۶۰،۴۵۳) افغانیو د محصول تحصیل | له تېرو کلونو څخه د محکمو د محصول او د حقوقو د محصول د (۲،۶۶۰،۴۵۳) افغانیو تحصیل | ۱۰۰٪ |
| | د (۳۳۹) نه تطبیق شوو قضیو وړاندې کول | مشترکې کمیټې ته د حل او فصل لپاره د (۳۳۹) قضیو وړاندې کول چې په تطبیق کې یې ستونزې شتون درلود | ۰٪ |
| | د محکمو د حکمونو د تطبیق د همغږۍ د میکانیزم تدوین | له هغو ادارو سره د همغږۍ د میکانیزم تدوین چې د محکمو د حکمونو په تطبیق کې د حقوقو له ادارو سره مشترك مسؤولیت لري | ۰٪ |
| | (۱۹۶۰) قضیې | په عامه او دولتي شتمنیو پورې اړوند د (۱۹۶۰) قضیو تثبیت او دفاع | ۸۷،۵٪ |
| | د (۴۴) په شمېر صدور | (۲) موارده مصالحې قرار (۲) موارده د منازعې د حل قرار او د (۴۰) موارده د استرداد د قرار صادرول | ۷۵٪ |
| | د مالي او اوبو د بورد رامنځته کول | له ځینو ګاونډیو او نورو هیوادونو سره د مالي او اوبو شخړو ته د رسیدګۍ په غرض د مالي او اوبو د بورډ رامنځته کول | ۰٪ |
| | د اړیکې او همغږۍ د میکانیزم رامنځته کول | د دولتي ملکیتونو د تثبیت په غرض له ښارجوړولو او ځمکو وزارت سره د اړیکې او همغږۍ د میکانیزم تنظیم او اجراء کول | ۱۰۰٪ |
| | د تدقیق د کمېټې رامنځته کول | د کابل ولایت د دولت د قضایاوو په ریاست کې د تدقیق د کمېټې رامنځته کول | ۱۰۰٪ |
| | (۱۵۵۶) جواز لیکونه | د سیاسي ګوندونو د (۶) جوازلیکونو، د ټولنو د (۳۵۰) جوازلیکونو، د معاملو د لارښوونې د (۱۰۰۰) جوازلیکونو او د عریضه لیکونکو د (۲۰۰) جوازلیکونو ثبت او نوي کول | ٦٩،٦٪ |
| | د سیاسي ګوندونو د کړنلارې تدوین | د سیاسي ګوندونو د فعالیتونو د ثبت، راجستر او څارنې د واضحې کړنلارې تدوین | ۱۰۰٪ |
| | د ټولنو د ثبت د لارښود تدوین | د ټولنو د فعالیتونو د ثبت او څارنې او د هغوی د سیاسي فعالیتونو د ممنوعیت د ډول لپاره د لارښود تدوین | ۱۰۰٪ |
| | د ګوندونو د غړیتوب د فورم بررسي | د هغه شخص د ژمنې د هویت او حقیقت جدي بررسي چې د ګوند د غړیتوب فورم یې ډك کړی دی | ۱۰۰٪ |
| | په (۱۲) سندونو کتنه | د قوانینو، مقررو او کړنلارو په ګډون په (۱۲) تقنیني سندونو باندې کتنه | ۱۰۰٪ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | د (۱۶) ښوونيزو برنامو جوړول او څارنه | د ښوونيزو ورکشاپونو او د برنامو له اغېزو څخه د څارنې له لارې د حقوقو په برخه کې د دولت د کارکوونکو د پياوړتيا لپاره د (۱۶) لنډ مهاله ښوونيزو برنامو جوړول | ٪۲۵ |
| | د مشورتي غونډو د (۱۲) برنامو جوړول | د بين المللي بنسټونو د سپارښتونو د شريکولو، پوهاوي ورکونې او کټګورۍ لپاره د (۱۲) مشورتي غونډو جوړول | ٪۸۳،۳۳ |
| | د (۴) برنامو جوړول | د بشر د حقوقو د سمون او همغږۍ د کمېټې د (۴) برنامو جوړول | ٪۵۰ |
| | د کنوانسيونونو د ډيټابيس رامنځته کول | د بشر د حقوقو د بين المللي کنوانسيونونو د ډيټابيس(معلوماتي بانك) رامنځته کول | ٪۳۰ |
| د بشري سرچينو د ظرفيت پرمختيا او ارتقا | د (۱۹۵) تنو استخدام | د ډله ييزې سيالۍ د ازموينې د پروسې له لارې د (۱۰۰) تنو کارکوونکو، د قضاياوو د مديريت د سيستم د پرمخ وړلو لپاره د (۵) تنو رسمي کارکوونکو، د حقوقو، شرعياتو او اقتصاد له څانګو څخه د (۱۰) تنو ښځينه وو کار زده کړو استخدام او د قراردادي او بالمقطع کارکوونکو د (۸۰) تنو د قرارداد تمديد | ٪۱۰۰ |
| | د (۳۰) تنو بدلون | د عدلي او حقوقي ښو خدمتونو د وړاندې کولو په منظور د (۳۶) تنو کارکوونکو بدلون | ٪۱۰۰ |
| | د (۱۰۰۰) کارکوونکو ښوونه | د وزارت د مرکز او ولايتونو د(۱۰۰۰) تنو مسلکي او اداري کارکوونکو لپاره د آسانتياوو برابرول او د ظرفيت لوړولو د برنامو جوړول | ٪۱۰۰ |
| | د (۱۲۵۰) تنو د اجرآآتو ارزونه | د مرکزي او ولايتي (۱۲۵۰) تنو کارکوونکو د اجرآآتو د ارزونې مديريت، همغږي او تنظيم | ٪۵۳،۵۲ |
| | له بستونو سره په مطابقت کې د دونډو د (۲۰۰) لايحو تحليل | د مرکزي او ولايتي رياستونو د (۲۰۰) بستونو په شمېر د دندو د بيا کتنې تعديل او د لايحو تحليل | ٪۱۰۰ |
| | د (۲۵) تنو تقاعد | د سن د زياتوالي او د (۴۰) کلونو د خدمت د مودې د بشپړولو له امله د (۲۵) کارکوونکو د تقاعد اجراء کول | ٪۱۰۰ |
| | بورسيو ته د (۱۳۲) تنو کارکوونکو معرفي کول | په هېواد کې دننه او له هېواده بهر تحصيلي بورسيو ته د ماسترۍ دورو ته د (۱۳۲) تنو ځوانو کارکوونکو معرفي کول | ٪۱۰۰ |
| | د (۱۶) ښوونيزو برنامو | د اړوندو دولتي ادارو کارکوونکو لپاره د بشر د حقوقو | ٪۶۲،۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | جوړول | له بین المللي کنوانسیونونو څخه د (۱۶) ښوونیزو برنامو جوړول | |
| | (۱۰) ولایتونو لپاره د (۳۰) تنو حقوقي مساعدینو استخدام | له هوکړه لیک سره سم د عدالت د موسسې د دفتر ILFA د (۳۰) تنو حقوقي مساعدینو استخدام او له هوکړه لیک سره په مطابقت کې د ملګرو ملتونو د پرمختیایي برنامې د ادارې په همکارۍ په (۱۰) ولایت کې د حقوقي مساعدینو استخدام | ٪۰ |
| | د پوهاوي ورکونې د (۸) برنامو جوړول | په ولایتونو کې د جندر د موضوعګانو په اړوند د پوهاوي ورکونې د (۲) برنامو او د عدلیې وزارت د کارکوونکو لپاره د ښوونیزو او پوهاوي ورکونې د (۶) برنامو جوړول | ٪۶۲،۵ |
| | ۴ دورې | د حقوقو او شرعیاتو د څانګو د وروستي کال د ښځینه وو محصلینو لپاره په مرکز او ولایتونو کې په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې د عامه پوهاوي ورکونې برنامو د (۴) دورو جوړول | ٪۲۵ |
| | د فارغینو لپاره د کار زده کړې د (۱) برنامې جوړول | په مرکز او ولایتونو کې د حقوقو او شرعیاتو د پوهنځیو د فارغینو لپاره د کارزده کړې د برنامې جوړول | ٪۱۰۰ |
| | د حقوقي ستاژ د کړنلارې جوړول | د حقوقي ستاژ د برنامو جوړولو لپاره د واضعې کړنلارې برابرول او د حقوقي ستاژ د ښوونیزې درې میاشتنۍ برنامې جوړول | ٪۵۰ |
| | د (۵۰۰) تنو د تابعیت پرېښودل او ترلاسه کول | د (۵۰۰) تنو د تابعیت په پرېښودلو او ترلاسه کولو پورې د اړوندو چارو پرمخ وړل | ٪۶۵،۸ |
| | (۱۰) هوکړه لیکونه | د کورنیو او بهرنیو موسسو د (۱۰) هوکړه لیکونو د مسودې د پړاوونو تېرول او لاسلیکول | ٪۷۰ |
| | (۲۱) ښوونیز سفرونه | د کارکوونکو لپاره د بهرنیو (۲۱) ښوونیزو سفرونو برابرول | ٪۳۳،۳ |
| | د ۴۵ واحدونو پلټنه | د عدلیې وزارت د (۴۵) اداري واحدونو د اجرآآتو پلټنه | ٪۱۰۰ |
| | د (۳۳) ولایتي دفترونو څارنه | دسیاسي ګوندونو، ټولنیزو بنسټونو له ولایتي دفترونو او د معاملو د لاربنوونو او عریضه لیکونکو له (۳۳) دفترونو څخه څارنه او کنترول | ٪۱۰۰ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | په (۱۰) ولایتونو کې ساتنه او مراقبت | په (۱۰) ولایتونو کې د عدلیې ریاستونو د ودانیو ساتنه او مراقبت | ٪۱۰۰ |
| | د دیجیټل کولو د قرارداد عقد | د آرشیف د دیجیټل کولو په خاطر د قرارداد عقد | ٪۰ |
| | (۵۰۰۰) قطعې عریضې | د حقوقي او متفرقه (۵۰۰۰) قطعه عریضو اجراء کول | ٪۱۰۰ |
| | د (۵۰۰۰) قطعو تصدیق او ژباړه | د (۵۰۰۰) قطعو په شاوخوا کې د رسمي سندونو تصدیق او ژباړه | ٪۱۰۰ |
| | ۱۰۹۶۰ قضیې | د افغانستان د قضایاوو د مدیریت د سیستم (CMS) په دیتابیس کې د (۱۰۹۶۰) مدني او سوداګریزو قضیو درجول | ٪۱۰۰ |
| مجموع | | د ټولو فعالیتونو شمېر (۷۳) | د ټولو فعالیتونو د پرمختګ د سلنې اوسط (٪۷۲،۵۷) |

## د بشپړو شوو فعالیتونو طبقه بندي او د هغو پایلې

| ګڼه | د فعالیتونو طبقه بندي(برخه) | بشپړ شوي فعالیتونه | پایلې |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اداري د معلوماتي سیستم پیاوړتیا | د بریښنایي حاضرۍ د سیستم رامنځته کول | په ټول هېواد کې د قانون واکمني او عدالت ته لاسرسی، د عدلي سیستم پیاوړتیا او د عدلي او حقوقي با کیفیته خدمتونو وړاندې کول |
| ۲ | د تقنیني سندونو طرحه، تسوید او تدقیق، له پړاوونو تېرول، چاپول او په خپل وخت د هغو خپرول | په مدني، جزایي، اقتصادي او سوداګریزو برخو کې د (۲۱) عنوانه قوانینو طرحه، تسوید او تدقیق | د قانون د واکمنۍ پیاوړتیا او د قانون جوړونې د بهیر ښه والی |
| | | د (۲۷) مقررو طرحه، تسوید او تدقیق او بیا کتنه | |
| | | د (۲) اساسنامو طرحه، تسوید او تدقیق | |
| | | په تقنیني سندونو کې د (۲۹) مواردو تعدیل | |
| | | د وزارت د(۶۴)رسمي محفلونو او مطبوعاتي کنفرانسونو له بهیر څخه د انځور، فلم، خبر او مطبوعاتي اعلامیې برابرول او خپرول | د عدلیې وزارت د حقوقي خدمتونو د لاسته راوړنو او فعالیتونو منعکس ول |
| | | اطلاعاتو د لاسرسي د قانون پربنسټ غوښتونکو ته د (۶۰) ځله اطلاعاتو وړاندې کول | |
| | | د عدلیې وزارت په وبسایت کې د (۲۰) ګڼو رسمي جریدو خپرول | د حقوقي مسایلو په هکله د هېواد د اتباعو د پوهاوي د کچې لوړول |
| | | د ګونډونو، ټولنو، د معاملو د لارښوونو، مجلو او میاشتنیو د (۱۲) ګڼو احصائیو خپرول | |
| ۳ | د قوانینو، حقوقي، عدلي او قضایي چارو په هکله عامه | د عامه پوهاوي د مبلغینو لپاره د (۱۵) ښوونیزو برنامو جوړول | د عدلیې وزارت د حقوقي خدمتونو د لاسته راوړنو او فعالیتونو منعکس ول |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | پوهاوی | د عامه پوهاوي د زیاتوالی په منظور د (۴) عنوانه حقوقي مطلبونو برابرول او خپرول | |
| | | د وړیا دریو قضیو د برمخ وړلو په اړوند د افغانستان د مدافع وکیلانو له خپلواک انجمن سره د هوکړه لیک طرحه او برابرول | د هېوادوالو د باور د راجلبولو لپاره بیوزلو تورنو ته د حقوقي خدمتونو وړاندې کول |
| | | د هېواد (۲۰۰۰) اړمنو اتباعو لپاره، د حقوقي مساعدینو او حقوقي عامه پوهاوي له لارې او د ۱۸۸ شمېرې په واسطه، د حقوقي خدمتونو او سلا مشورو وړاندې کول | |
| | | د حقوقي عامه پوهاوي له کارکوونکو څخه د (۵۵) تنو لپاره د (۸) ورکشاپونو جوړول | د هېوادوالو د باور د راجلبولو لپاره بیوزلو تورنو ته د حقوقي خدمتونو وړاندې کول |
| | | د وړیا قضیو د حقوقي مساعدینو او وړاندې کوونکو مؤسسو شکایتونو ته د رسیدګۍ د لایحې برابرول | |
| | | د حقوقي مرستو د ملي پالیسۍ وروستي کول | |
| ٤ | د حقوقي خدمتونو وړاندې کول | درې ګونو محکمو ته د هغو له ارجاع څخه مخکې د (۱۳۰۰) حقوقي شخړو او قضیو حل او فصل | د قانون تطبیق، د عدالیت تأمین، د حقوقي قضیو د حل او فصل د بهیر چټکول او د مراجعینو د رضایت راجلبول |
| | | د حقوقو او عریضو د حق الثبت د محصول د (۳۵۰۰۰۰۰) افغانیو تحصیل | د حقوقي خدمتونو وړاندې کول او د دولت د اقتصادي بنسټ پیاوړي کول |
| | | له تېرو کلونو څخه د محکمو د محصول او د حقوقو د محصول د (۲۰۶۶۰،۴۵۳) افغانیو تحصیل | |
| | | د دولتي ملکیتونو د تثبیت په غرض د ښارجوړولو او ځمکو له وزارت سره د اړیکې او همغږۍ د میکانیزم تنظیمول او اجراء کول | د هېوادوالو د باور د راجلبولو لپاره بیوزلو تورنو ته د حقوقي خدمتونو وړاندې کول |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | د کابل ولایت د دولت د قضایاوو په ریاست کې د تدقیق د کمېټې رامنځته کول | د عدلي، حقوقي باکیفیته خدمتونو وړاندې کول او له عامه شتمنیو څخه دفاع |
| | | د سیاسي ګوندونو د (۶) جوازلیکونو، د ټولنو د (۳۵۰) جوازلیکونو، د معاملو د لارښوونې د (۱۰۰۰) جوازلیکونو او د عریضه لیکونکو د (۲۰۰) جوازلیکونو ثبت او نوي کول | د بنسټونو د فعالیت قانونمند کېدل او د دموکراسی پیاوړتیا |
| | | د سیاسي ګوندونو د فعالیت د ثبت، راجستر او څارنې د واضعې کړنلارې تدوین | |
| | | د ټولنو د فعالیتونو د ثبت او څارنې او د هغو د سیاسي فعالیتونو د ممنوعیت د ډول لپاره د لارښود تدوین | |
| | | د هغه شخص د هویت او ژمنې د حقیقت ټینګه بررسي چې د غړیتوب فورمه یې ډکه کړې ده | |
| | | د قوانینو، مقررو او کړنلارو په ګډون د (۱۲) تقنیني سندونو بیا کتنه | په قوانینو، مقررو او کړنلارو کې، د بین المللي کنوانسیونونو د مادو له رعایتولو څخه د ډاډ ترلاسه کول |
| ۵ | د بشري سرچینو پرمختیا او د ظرفیت لوړول | د ډله ییزې سیالۍ د ازموینې د پروسې له لارې د (۱۰۰) تنو کارکوونکو، د قضایاوو د مدیریت د سیستم د پرمخ وړلو لپاره د (۵) تنو رسمي کارکوونکو، د حقوقو او شرعیاتو او اقتصاد له څانګو څخه د (۱۰) تنو ښځینه وو کار زده کړو استخدام او د (۸) تنو قراردادي او باالمقطع کارکوونکو د قرارداد تمدیدول | د مجربو او تحصیل یافته افرادو جذبول، کار اهل کار ته سپارل او په خپل وخت د عدلي او حقوقي خدمتونو وړاندې کول |
| | | د عدلي او حقوقي ښو خدمتونو د وړاندې کولو په منظور د (۳۰) تنو | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | کارکوونکو بدلون | |
| | | د وزارت د مرکزي او ولایتي مسلکي او اداري د(۱۰۰۰)تنو کارکوونکو لپاره د آسانتیاوو برابرول او د ظرفیت لوړونې د برنامو جوړول | د وزارت د کارکوونکو د ظرفیت لوړول |
| | | د مرکزي او ولایتي ریاستونو د (۲۰۰) بستونو د بیا کتنې تعدیل او د دندو د لایحو تحلیل | د هر بست د دندو او مسؤولیتونو مشخصول او معیاري کول او د بستونو د دندو لایحه د تعدیل، بیاکتنې، تجزیې او تحلیل له لارې د چارو د بهیر چټکوالی او د مرکزي او ولایتي ریاستونو د تشکیل د جوړښت بیا کتنه |
| | | د لوړ سن او د (۴۰) کلونو د خدمت د بشپړېدو له امله د (۲۵) کارکوونکو د تقاعد اجراء کول | د تقاعد له حقوقو څخه د کارکوونکو مستفید کېدل |
| | | په هېواد کې دننه او له هېواده بهر تحصیلي بورسیو ته د ماسترۍ دورو ته د (۱۳۲) تنو ځوانو کارکوونکو معرفي کول | د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د کارکوونکو د ظرفیت لوړول |
| | | په مرکز او ولایتونو کې د حقوقو، شرعیاتو د پوهنځیو د نوو فارغینو لپاره د کار زده کړې د برنامې جوړول | په عدلیې وزارت کې د جندر په هکله د محصلینو د پوهاوي کچه او د ښځو حضور زیات شوی. |
| ٦ | | د عدلیې وزارت د (۴۵) اداري واحدونو د اجراآتو پلټنه | د روڼتیا، حساب ورکونې د اصل تأمین، د اداري د اغېزمنتوب او کارونې پیاوړي کول او د عامه شتمنیو له حیف او میل څخه مخنیوی |
| | | د سیاسي ګوندونو، ټولنیزو بنسټونو، د معاملو د لارښوونې د دفترونو او عریضه لیکونکو له(۳۳) ولایتي دفترونو څخه څارنه او کنترول | |
| | | په (۱۰) ولایتونو کې د عدلیې ریاستونو د ودانیو ساتنه او مراقبت | د ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره سالم مدیریت |
| | | د (۵۰۰۰) په شاوخوا کې د حقوقي او متفرقه رسیدلو عریضو اجراء کول | د قانون تطبیق، د حقوقي قضایاوو د حل او فصل د بهیر چټکوالی او د مراجعینو د رضایت جلبول |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | د (۵۰۰۰) قطعو په شاوخوا کې د رسمي سندونو تصديق او ژباړه | د باکيفيته عدلي او حقوقي خدمتونو وړاندې کول |
| | | د افغانستان د قضاياوو د مديريت د سيستم (CMS)په ديتابيس کې د (۱۰۹۶۰) مدني، سوداګريزو او محجوزينو د قضيو درجول | د عدلي سيستم د برېښنايي کولو له لارې د چارو چټکوالى او ښه والى |

## د اجراآتو تحليل

**الف: د اجراء په حال کې فعاليتونه**

| ګڼه | د فعاليت د تحقق د څرنګوالى راپور | د پرمختګ سلنه | له پلان سره سم د فعاليت د نه بشپړېدو دلايل |
|---|---|---|---|
| ۱ | په ټولو دهليزونو کې د مراجعينو او کارکوونکو د اخلاقي، حقوقي منشور او متقابلو دندو د تابلوګانو نصبول | ٪۵۰ | له کلني پلان سره سم د فعاليتونو د نه پشپړېدو علت، په دوه يمه ربعه کې د کرونا ويروس خپرېدل |
| ۲ | د ترسره شوو ارزونو د موندنو پربنسټ د نګونو د لرې کولو لپاره د عمل د پلان پرمختيا او تطبيق تر يوې کچې پورې پرمختګ درلود | ۵۰٪ | // |
| ۳ | د (۱۸) تقنيني سندونو تسويد او تدقيق چې په اساسي قانون او له فساد سره د مبارزې په ملي ستراتيژۍ کې ورته په څرګند او ضمني ډول اشاره شوې ده، په پلان کې شامل و چې له جملې يې (۱۱) تقنيني سندونه تسويد او تدقيق شوي دي. | ٪۶۱،۱ | // |
| ٤ | د (۸۰) تقنيني سندونو تسويد او تدقيق په پلان کې شامل و چې له جملې يې (۵۶) تقنيني سندونه چاپ او خپاره شوي دي | ٪ ۷۰ | // |
| ۵ | (۱۲۰۰۰) جلده د عدالت د مياشتنى او د (۲۴۰۰) جلده د سوداګريزو نښو او سندونو چاپول او خپرول په پلان کې شامل و چې له جملې يې (۵۰۰۰) جلده د عدالت د مجلې | ٪۵۰ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | میاشتنی او (۲۲۰۰) جلده سوداګریزې نښې او سندونه چاپ او خپاره شوي دي. | | |
| ٦ | د حقوقي پوهاوي د میاشتنی د (۲۴۰۰۰) ګڼو چاپول، خپرول او وېشل په پلان کې شامل و چې له جملې یې د حقوقي عامه پوهاوي (۷۰۰۰) ګڼې چاپ، خپرې او وېشل شوې دي. | ٪۲۹،۱٦ | // |
| ۷ | د وزارت د مقام او اړوندو څانګو په واسطه له رسنیو سره (۱۰) ځله مرکې په پلان کې وې چې له جملې یې له رسنیو سره (۳۲) ځله مرکو صورت موندلی. | ٪۳۲ | // |
| ۸ | د سیمینارونو د جوړولو، د تبلیغاتي پاڼو د وېشلو او د حقوقي پوهاوي د میاشتنی له لارې د هېواد (۷۵۰۰۰) تنو ته د حقوقي پوهاوي ورکونه په پلان کې وه چې له جملې یې (۷۳۲۴۳) تنو ته حقوقي پوهاوي صورت موندلی | ٪۹۷،٦ | // |
| ۹ | په مرکز او ولایتونو کې د ماشومانو، ښځو، د معلولیت لرونکو اشخاصو، بېرته راستنیدونکو، کورنیو بې ځایه شویو، بیوزله کډوالو او پناه اخیستونکو او د یادو شوو جرمونو قربانیانو ته د لومړیتوب ورکولو له لارې د(۹۰۰۰)تنو مظنونینو، تورنو، د شکنجې د جرمونو او جنسي تیري قربانیانو ته د حقوقي مرستو وړاندې کول په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۸۳۹۹) تنو ته حقوقي مرستې وړاندې شوې دي | ٪۹۳،۳ | // |
| ۱۰ | د حقوقي مرستو د (۷) کړنلارو برابرول په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۵) کړنلارې برابرې شوې دي | ٪۷۱،٤ | // |
| ۱۱ | د محکمو د قطعي او نهایي فیصلو د (۴۵۰۰) په شاوخوا کې د حقوقي دوسیو تطبیق په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۸۱۵) دوسیې | ٪۱۸،۱ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | تطبیق شوي دي | | |
| ۱۲ | په عامه او دولتي شتمنیو پورې اړوند د (۱۹۶۰) قضیو تثبیت او دفاع په پلان کې شامل و چې له جملې څخه یې په عامه او دولتي شتمنیو پورې اړوند د (۱۷۱۶) قضیو تثبیت او دفاع صورت موندلی | ٪۸۷،۵ | // |
| ۱۳ | د (۴۰) موارده د استرداد قرار په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۳۰) موارده د استرداد قرار صادر شوی دی | ٪۷۵ | // |
| ١٤ | د ښوونیزو ورکشاپونو له لارې د حقوقو په برخه کې د دولت د کارکوونکو د پیاوړي کولو لپاره د (۶) لنډ مهاله ښوونیزو برنامو جوړول او د برنامو له اغېزو څخه څارنه په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۴) برنامې جوړې شوې دي | ٪۲۵ | // |
| ١٥ | د بین المللي بنسټونو د سپارښتنو د شریکونې، پوهاوي ورکونې او کټګورۍ لپاره د (۱۰) مشورتي غونډو جوړول په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۱۰) مشورتي غونډې جوړې شوې | ٪۸۳،۳۳ | // |
| ١٦ | د بشر د حقوقو د سمون او همغږۍ کمیټې د (۴) برنامو جوړول په پلان کې شامل و چې له جملې یې (۲) برنامې جوړې شوې | ٪۵۰ | // |
| ١٧ | د بشر د حقوقو د بین المللي کنوانسیونونو د دیتابیس(معلوماتي بانک) رامنځته کول په پلان کې شامل و چې د هغه په رامنځته کولو کار جریان لري | ٪۳۰ | // |
| ١٨ | د (۱۲۵۰) تنو مرکزي او ولایتي کارکوونکو د اجراآتو د ارزونې د مدیریت، همغږۍ او تنظیم په پلان کې شامل و چې له امله یې (۶۶۹) تنه ارزیابي شوي | ٪۵۳،۵۲ | // |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹ | د اړونـدو دولتـي ادارو د کـارکوونکو لپـاره د بشر د حقوقو له بين المللي کنوانسيونونو څخـه د (۱۶) ښوونيزو برنامو جـوړول پـه پـلان کـې شـامل و چـې لـه جملـې يـې (۱۰) ښـوونيزې برنامې جوړې شوې | ٦٢،٥٪ | // |
| ۲۰ | په (۶) ولايتونو کې د جنـدر د موضـوعاتو پـه اړوند د پوهاوي ورکونې د (۲) برنامو جوړول او د عدليې وزارت د کارکوونکو لپاره د (۶) ښوونيزو او پوهاوي ورکونې برنـامې پـه پـلان کې شامل وې چې لـه جملـې يـې (۵) برنـامې جوړې شوې | ٦٢،٥٪ | // |
| ۲۱ | د حقوقو او شرعياتو د څانګو د وروستي کالـ د ښـځينه وو محصـلينو لپـاره پـه مرکـز او ولايتونو کې په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کـې د عامـه پوهـاوي ورکـونې د (۴) برنـامو جوړول په پلان کې شامل و چې له جملې يې د پوهاوي ورکونې (۱) برنامه جوړه شوه | ٢٥٪ | // |
| ۲۲ | د حقـوقي سـتاژ د برنـامو د جوړولـو لپـاره د واضع کړنلارې برابـرول او د حقـوقي سـتاژ د ښوونيزو درى مياشتنيو برنامو جوړول پـه پـلان کې شامل و چې کار پرې جريان لري | ٥٠٪ | // |
| ۲۳ | د (۵۰۰) تنو د تابعيت په پرېښـودلو او ترلاسـه کولو پورې د اړوندو چارو پرمخ وړل په پلان کې و چې له جملې يې د (۳۲۹) تنو د تابعيت پرېښودل او ترلاسه کول صورت موند | ٦٥،٨٪ | // |
| ۲٤ | د کورنيـو او بهرنيـو مؤسسـو د (۱۰) هـوکړه ليکونـو د مسـودې د پړاوونـو تېـرول او لاسليکول په پلان کې و چې له جملې يې (۷) هوکړه ليکونه له پړاوونو تېر شوي | ٧٠٪ | // |
| ۲۵ | د کـارکوونکو لپـاره د (۲۱) بهرنيـو سـفرونو برابرول په پلان کې شامل و چې له جملې يې (۷) ښوونيز سفرونه برابر شول | ٣٣،٣٪ | // |

## ب:ځنډول شوي فعالیتونه

| ګڼه | د فعالیت د تحقق د څرنګوالي راپور | د پرمختګ سلنه | د فعالیت ځنډول شوي دلایل |
|---|---|---|---|
| ۱ | ۰ | ۰ | ۰ |

## ج: نا پیل شوي فعالیتونه

| ګڼه | د فعالیت عنوان | د فعالیت د نه پیل دلایل |
|---|---|---|
| ۱ | د اداري لیکونو د برېښنايي سیستم پرمختیا | د کرونا ویروس خپرېدل |
| ۲ | د (۲۵۰۰) په شمیر د حقوقي عامه پوهاوي د ملي ستراتیژۍ چاپول او خپرول | // |
| ۳ | د مرکز او زونونو په کچه د حقوقي پوهاوي د ملي ستراتیژۍ د (٤) ځله کنفرانس جوړول. | // |
| ٤ | د کابل ولایت د حقوقو د ریاست له لارې له ۱۳۸۶ کال څخه تر ۱۳۹۴ کال پورې د (۳۹۸) محصول تحصیل | // |
| ۵ | ګډې کمیټې ته د حل او فصل لپاره د هغو (۳۳۹) قضیو وړاندې کول چې تطبیق يې ستونزه لري | // |
| ٦ | له هغو ادارو سره د همغږۍ د میکانیزم تدوین چې د محکمو د حکمونو په تطبیق کې د حقوقو له ادارو سره ګډ مسوولیت لري. | غونډې د همغږۍ کمیټې لخوا ندی غوښتل شوې، ځکه چې پریکړې د مشرانو وي چې ندې ترسره شوي |
| ۷ | له ځینو ګاونډیانو او نورو هېوادونو سره مالي او اوبو شخړو ته د رسیدګۍ په غرض د مالي او اوبو بورډ رامنځته کول | د تشکیل د نشتوالی له کبله ندی رامنځته شوی |
| ۸ | له هوکړه لیک سره سم د عدالت د مؤسسې او د افغانستان نړیوال حقوقي بنیاد (ILF-A) د حقوقي مساعدینو د (۳۰) تنو استخدام او له هوکړه لیک سره په مطابقت کې د ملګرو ملتونو د پرمختیايي برنامې د اداري په همکارۍ په (۱۰) ولایتونو کې د حقوقي مساعدینو استخدام | د کرونا ویروس خپرېدل |
| ۹ | د آرشیف د ډیجیټل کولو په خاطر د قرارداد عقد | // |

## عمده ستونزې او پېشنهادي طرحې

| عمده ستونزې | پېشنهادي طرحې |
|---|---|
| ۱. په یو شمېر ولایتونو او د لویو لارو په تګلورې کې د امنیت نشتوالی | ۱. په دې اړه باید جدي پاملرنه صورت ونیسي |
| ۲. د عدلیې وزارت د بشر د حقوقو په برخه کې د سرچینو او امکاناتو نشتوالی | ۲. د اداري د تشکیل لوړول او د ملګرو ملتونو د پرمختیایي اداري لا زیات مالي او تخنیکي ملاتړ |
| ۳. د دولت له قضایاوو سره د اړوندو ادارو له لوري لازمه نه همکاري | ۳. د ادارو ترمنځ د زیاتې همغږۍ رامنځته کول لکه د ښارجوړولو او ځمکواو د کورنیو چارو وزارتونه او نور اړوند بنسټونه |
| ٤. د دولت د قضایاوو ریاست ته د اړوندو ادارو له لوري د کره معلوماتو نه وړاندې کول | ٤. په مرکز او ولایتونو کې دی ټولو همکارو ادارو ته هدایت ورکړل شي تر څو د سندونو، معلوماتو، دلایلو او مدارکو د وړاندې کولو پربنسټ د دولت قضایاوو غوښتنو ته ځواب ووایي |
| ٥. د کافي لازمو امکاناتو او لیږدوونکو وسایطو نشتوالی | ٦. د عدلیې وزارت لپاره د لازمو امکاناتو او لیږدوونکو وسایطو برابرول |
| ۷. ددې اداري لیږل شوو لیکونو او د تابعیت د پرېښودلو او ترلاسه کولو د دوسیو لیکونو ته د ځواب په وړاندې کولو کې ځنډ ته د احصایې د ملي اداري کره او په خپل وخت نه ځواب ورکونه | ۷. د تابعیت د پرېښودو او ترلاسه کولو د پروسې د کړنلارې برابرول او په خپل وخت د ځواب ویلو لپاره د مشخص وخت په تړاو د اړوندو ادارو د مسوولیتونو مشخصول |
| ۸. په مسلکي او اداري برخو کې د تشکیل نشتوالی | ۸. د عدلیې وزارت د غوښتنو پربنسټ د تشکیل منظوري |

## له پلان څخه بهر بشپړ شوي فعالیتونه

| ګڼه | له پلان څخه بهر د بشپړ شوي فعالیت عنوان | پایلې | په پلان کې د نه شمولیت دلایل |
|---|---|---|---|
| ۱ | په مدني، جزایي، اقتصادي او سوداګریزو برخو کې د (۳) عنوانه قوانینو طرحه، تسوید او تدقیق | د قانون جوړونې د بهیر لازیاته چټکتیا او د اړوندو ادارو د پالیسیو تطبیق | عدلیې وزارت ته د اړوندو ادارو د غوښتنې، د ا.ا.ج د کابینې د هدایاتو او مصوبو پربنسټ، په فوق العاده ډول رارسیدلې دي |
| ۲ | د (۲۷) مقررو طرحه، تسوید، تدقیق او بیا کتنه | | |
| ۳ | د (۳) اساسنامو طرحه، تسوید او تدقیق | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٤ | په تقنيني سندونو کې (۲) موارده تعديل | | |
| ۵ | د وزارت د (۳۳) رسمي محفلونو او مطبوعاتي کنفرانسونو له بهير څخه د انځور، فلم، خبر او مطبوعاتي اعلاميې برابرول او خپرول | د يادو شوو موادو په چاپولو، خپرولو او وېشلو سره عامه ذهنونه روښانه شوي او عدالت ته د هېوادوالو لاسرسی او د حقوقي پوهاوي د کچې لوړول پياوړي شوي دي | د مطالبو غوښتنې او اهميت ورکونې ته په کتو، اړونده اداره توانيدلې خپله د پوهاوې ورکونې برنامه پياوړې کړي |
| ٦ | اطلاعاتو ته د لاسرسي د قانون پربنسټ غوښتونکو ته د (۲۴۷) ځله اطلاعاتو وړاندې کول | | |
| ۷ | د عدليې وزارت په وبسايت کې د (۹۴) ګڼو رسمي جريدو خپرول | | |
| ۸ | د ګوندونو، ټولنو، لارښوونو، مجلو او مياشتنيو د (۱۵۷) ګڼو احصاييو خپرول | | |
| ۹ | د عامه پوهاوي مبلغينو ته د (٤) ښوونيزو برنامو جوړول | د هېوادوالو د باور د جلبولو لپاره بيوزله تورنو ته د حقوقي خدمتونو وړاندې کول | |
| ۱۰ | د عامه پوهاوي د زياتوالي په منظور د (۶) عنوانه حقوقي مطلبونو برابرول او خپرول | | |
| ۱۱ | د هېواد (۹۴۷) تنو اړمنو اتباعو لپاره، د حقوقي مساعدينو او د حقوقي عامه پوهاوي د مبلغينو او د ۱۸۸ شمېرې په واسطه د حقوقي مشورې ورکونې د مرکز له لارې، د حقوقي سلا مشورو وړاندې کول | | |
| ۱۲ | درې ګونو(ثلاثه) محکمو ته له ارجاع څخه مخکې د (۵۹۲) حقوقي شخړو او قضيو حل او فصل | د دولت د عوايدو زياتوالی | له پلان څخه د لوړو دوسيو راجع کېدل |
| ۱۳ | د حقوقو او عريضو د حق الثبت د محصول د (۷۱۳۸۸۶۹) افغانيو تحصيلول | | |
| ۱٤ | له تېرو کلونو څخه د محکمو د محصول او د حقوقو د محصول د (۳٤٤٠٤٥١) افغانيو تحصيل | | |
| ۱۵ | د ډله ييزې سيالی د ازموينې د پروسې له لارې د (۳۴) تنو قراردادي او بالمقطع کارکوونکو استخدام او د (۳۵) تنو | د مجربو او وړو افرادو جذبول، کار اهل کار ته سپارل او په خپل وخت د | د اداري شديدې اړتيا ته په کتو |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | کارکوونکو د قرارداد تمدید | عدلي او حقوقي خدمتونو وړاندې کول | |
| ۱۶ | د عدلي او حقوقي ښو خدمتونو د وړاندې کولو په منظور د (۶) تنو کارکوونکو بدلون | | |
| ۱۷ | د مرکزي او ولایتي ریاستونو د (۱۷۳)بستونو د بیا کتنې تعدیل او د دندو د لایحو تحلیل | د هر بست دندې او مسوٶلیتونه مشخصول او معیاري کول او د چارو بهیر چټکول | د اداري شدیدې اړتیا ته په کتو |
| ۱۸ | د سن د لوړوالی او د (۴۰) کلونو د خدمت د بشپړولو له امله د (۱۰) تنو کارکوونکو د تقاعد اجراء کول | کارکوونکي د تقاعد له حقوقو څخه مستفید شوي | |
| ۱۹ | په هېواد کې دننه او له هېواده بهر تحصیلي بورسیو ته د ماسترۍ دورو ته د (۹۸) تنو ځوانو کارکوونکو معرفي کول | د کارکوونکو د کاري او مسلکي ظرفیت لوړول | د اداري اړتیا ته په کتو |
| ۲۰ | د عدلیې وزارت د (۱۴) اداري واحدونو د اجراآتو پلټنه | د روڼتیا او حساب ورکونې د اصل تأمین، د اداري اغېزمنتوب او کارونه پیاوړي شوي او له حیف او میل څخه مخنیو ی شوی | د اړتیا له امله د بررسی او پلټنې چارې |
| ۲۱ | د سیاسي ګوندونو، ټولنیزو بنسټونو او د معاملو د لاربنوونې د دفترونو او عریضه لیکونکو له (۲۳) ولایتي دفترونو څخه څارنه او کنټرول | | |
| ۲۲ | د (۱۳۷۰) حقوقي او متفرقه رارسیدلو عریضو اجراء کول | د حقوقي خدمتونو وړاندې کول | د زیاتو خلکو مراجعې ته په کتو |
| ۲۳ | د (۶۶۰۲۰) قطعو په شاوخوا کې د رسمي سندونو تصدیق او ژباړه | د حقوقي خدمتونو وړاندې کول او د دولت د عوایدو زیاتوالی | له پلان څخه د زیاتو سندونو رارسیدل |
| ۲۴ | د افغانستان د قضایاوو د مدیریت سیستم (CMS) په دیتابیس کې د (۳۵۶۶) مدني او سوداګریزو قضیو درجول | د عدلي سیستم د برېښنایي کولو له لارې د چارو چټکتیا او ښه والی | له پلان څخه د زیاتو دوسیو رارسیدل |

**د ۱۴۰۰ مالي کال لپاره پلان شوي عمده برنامې**

| ګڼه | د ۱۴۰۰ مالي کال لپاره د پلان شوو برنامو او یا فعالیتونو عنوان |
|---|---|
| ۱ | د ۵۰ تقنیني سندونو، د حقوقي پوهاوي د میاشتنې د ۱۲۰۰۰ ټوکو او د سوداګریزو علامو د ثبت د ۲۴۰۰ ګڼو طرحه، تسوید، تدقیق، چاپ او خپرول او د عدالت مجلې د میاشتې د ۱۲ ګڼو، ثبت چاپ او خپرول. |

| | |
|---|---|
| ۲ | په مرکز او لایتونو کې د ۱۰۰۰بې وزلو مظنونینو او تورنو کسانو له حقوقو څخه دفاع، د ۴ عنوانونو حقوقي مطالبو برابرول، په ودامدار ډول د ۴ راډیویي پیغامونو خپرول، د هېواد د ۹۵۰۰۰ تنو اتباعو لپاره د حقوقي پوهاوي وړاندې کول |
| ۳ | د ۵۰۰۰ حقوقي شخړو حل او فصل، د محکمو د قطعي او نهايي فيصلو او د دولت د قضاياوو د استردادي قرارونو د ۷۰۰۰ جلده دوسیو تطبیق، د حقوقو او د عریضو د حق الثبت د محصول د ۱۵۰۰۰۰۰۰ افغانیو تحصیل، د رسمي سندونو د حق التصدیق د (۷۰۰۰۰۰) افغانیو تحصیل، د رسمي سندونو د ژباړې له درکه د (۱۶۰۰۰۰) افغانیو تحصیل. |
| ٤ | د عامه شتمنیو له ۳۰۰۰ دوسیو څخه دفاع، د مصالحې د قرار د (۲) مواردو ، د منازعې د حل د (۲) مواردو او د استرارداد د قرار د (۴۰) مواردو صادرول |
| ٥ | د سیاسي ګوندونو د (۴) جوازلیکونو، د ټولنو د ۸۵۰ جوازلیکونو او د معاملو د لاربنوونې د ۲۱۰۰ جوازلیکونو او د عریضه لیکونکو د (۴۵۰) جوازلیکونو ثبت او نوي کول او له (۳۵) سیاسي ګوندونو، (۱۳۰) ټولنو او (۷۰۰) د معاملو له لاربنوونو څخه څارنه |
| ٦ | د ډله ییزې سیالۍ د ازموینې د پروسې له لارې د (۱۰۰)تنو کارکوونکو استخدام او د (۶۰) تنو د بالمقطع قراردادي کارکوونکو د قرارداد تمدید، د عدلي او حقوقي ښو خدمتونو د وړاندې کولو په منظور د ۳۰ تنو کارکوونکو بدلون، د همکارو ادارو په همکارۍ د عدلیې وزارت له ۵ کلنې ستراتیژۍ سره سم د وزارت د مرکزي او ولایتي مسلکي او اداري (۱۲۰۰) تنو کارکوونکو لپاره د آسانتیاوو برابرول او د ظرفیت لوړولو د برنامو جوړول، د مرکزي او ولایتي د (۱۲۵۰) تنو کارکوونکو د اجراآتو د ارزونې مدیریت، همغږي او تنظیم، د مرکزي او ولایتي ریاستونو د (۲۵۲۸) بستونو د دندو د لایحو تعدیل، بیاکتنه او ارزونه، د سن د لوړوالي او د ۴۰ کلونو د خدمت د مودې له امله د (۳۵) تنو د تقاعد اجرا کول او د کابل پوهنتون د ماسترۍ په کچه د عدلیې وزارت د (۳۰) تنو کارکوونکو معرفي کول |
| ۷ | د (۴۰۰) تنو د تابعیت په پرېښودلو او د (۱۰) تنو د تابعیت په ترلاسه کولو پورې د اړوندو چارو پرمخ وړل، له کورنیو او بهرنیو مؤسسو سره د (۹) هوکړه لیکونو د مسودې د پړاوونو تېرول او لاسلیکول، د کارکوونکو لپاره د (۱۰) بهرنیو ښوونیزو سفرونو برابرول |
| ۸ | د عدلیې وزارت د (۳۸) اداري واحدونو د اجراآتو پلټنه، په فوق العاده ډول د (۶۰) قضیو بررسي، د سیاسي ګوندونو، ټولنیزو بنسټونو او معاملو د لاربنوونې د دفترونو او عریضه لیکونکو له (۳۳) ولایتي دفترونو څخه څارنه او کنترول، د (۱۰۰۴۰) قطعو د رسمي سندونو تصدیق او ژباړه او د افغانستان د قضایاوو د مدیریت د سیستم(CMS) په دیتابیس کې د مدني، سوداګریزو او محجوزینو د (۱۰۰۰۰) قضیو درجول |
| ۹ | د (۵) مرکزي پاتې شویو پروژو او د ولایتونو د عدلیې ریاستونو د ودانۍ بشپړول او جوړول: د فراه د عدلیې ریاست، د فاریاب د عدلیې ریاست د پاتې شوی ودانۍ کار، د وزارت دکامپلکس جومات د ودانۍ جوړول، د وزارت د کامپلکس د فاضله اوبو پاکولو سیستم جوړول، د قوانینو د طرحی پروژه. |

# ضميمې

## (۱) ګڼه ضميمه : د ۱۳۹۹ مالي کال عوايد( په افغانيو)

| ګڼه | عايداتي سرچينې | په افغانيو د وړاندوينه شوو عوايدو پيسې | په افغانيو لاسته راغلي خالص عوايد | د زياتوالي سلنه/د عوايدو کموالي | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | | | زياتوالي | کموالي |
| ۱ | د بها لرونکو سندونو پلور | ۵۰,۰۰۰ | ۳۶،۰۰۰ | ۰ | ٪۲۸ |
| ۲ | د رسمي جريدو خپرول او پلورل | ۱۴،۵۰۰،۰۰۰ | ۱۲،۲۵۷،۸۹۲ | ۰ | ٪۱۵,۴۶ |
| ۳ | د دولتي ادارو جواز | ۲۴,۵۰۰,۰۰۰ | ۲۳،۲۹۶،۰۹۹ | ۰ | ٪۴,۹۱ |
| ٤ | د حقوقي خدمتونو عرضه کول | ۸۰۰,۰۰۰ | ۷۵۰،۹۶۱ | ۰ | ٪۶,۱۲ |
| ۵ | د انفرادي افرادو او حقوقي شخصيتونو جريمه | ۱،۴۵۰،۰۰۰ | ۱،۴۵۲,۶۰۵ | ٪۰,۱۷ | ۰ |
| ٦ | د معاشونو  بېرته ورکړه او د تېر کال لګښتونه | ۰ | ۱،۴۵۳،۴۶۷ | ۰ | ۰ |
| ۷ | د محکمو د فيصلو محصول | ۱،۳۵۰،۰۰۰ | ۱،۳۱۹،۱۸۶ | ۰ | ٪۲,۲۸ |
| ۸ | د سندونو تصديقونه | ۲۱،۳۷۰،۷۱۸ | ۲۱،۳۵۹،۰۰۰ | ۰ | ٪۰,۰۵ |
| ۹ | د داغمه جاتو پلور | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| ۱۰ | د عريضو د ثبت حق | ۵,۰۰۰,۰۰۰ | ۴،۹۱۰,۵۰۰ | ۰ | ٪۱,۷۹ |
| | ټول عوايد په افغانيو | ۶۹،۰۲۰،۷۱۷ | ۶۶،۸۳۵،۷۱۰ | ٪ ۳,۱۶ | |

## (۲) ګڼه ضمیمه؛ د ۱۳۹۹ مالي کال عادي او پرمختیایي بودجه

**بودجه په میلون افغانیو**

| **د ۱۳۹۹ مالي کال ټوله منظور شوې بودجه** | ۲+۱ | عادي بودجه | ۱ | پرمختیایي بودجه | ۲ |
|---|---|---|---|---|---|
| **په رقم** | ۹۹۹,۳۹۵,۷۳۲ | | ۹۳۴,۰۴۸,۳۳۲ | | ۶۵,۳۴۷,۴۰۰ |
| **په تورو** | نهه سوه او نهه نوی میلیونه او درې سوه او پنځه نوی زره او وه سوه او دوه دیرش | | نهه سوه او څلور دیرش میلیونه او اته څلویښت زره او درې سوه او دوه دیرش | | پنځه شپیته میلیونه او درې سوه وه څلویښت زره او څلور سوه |

**په پیسو او سلنې د مالي کال پرېنسټ د بودجې لګښت**

| **د بودجې لګښت** | د عادي بودجې لګښت | | د پرمختیایي بودجې لګښت | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | په پیسو | په سلنه | په پیسو | په سلنه | |
| **په رقم** | ۸۲۱,۴۳۰,۶۷۵ | ٪۸۷,۹۴ | ۵۴,۷۴۵,۴۹۷ | ٪۸۳,۷۷ | |
| **په تورو** | اته سوه او یو ویشت ملیونه او څلور سوه او دیرش زره او شپږ سوه او پنځه اوویا | ووه اتیا اعشاریه څلور نوی | څلور پنځوس میلیونه اووه سوه پنځه څلویښته زره څلور سوه وه نووی | درې اتیا اعشاریه ووه اویا | |

## (۳) ګڼه ضمیمه؛ د وزارت / اداري تشکیل:

| | د معینتونو شمېر | د ۱ او۲ بستونو د مرکزي رياستونو شمېر | د مشاوريتونو شمېر | د ولايتي نمايندګيو شمېر | د بهرنيو نمايندګيو شمېر | د تصديو شمېر | د ګډو شرکتونو شمېر | کتني |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۱۳۹۸ کال تشکیل | ۳ | ۴۱ | ۴ | ۳۳ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |
| د ۱۳۹۹ کال تشکیل | ۳ | ۶۷ | ۴ | ۳۳ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

## د مرکزي کارکوونکو برخه

| د ۱۳۹۹ کال منظور شوی تشکیل | ماموران او استادان | | اجیران | | نظامیان | | مجموع | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تارینه | ښځینه | تارینه | ښځینه | تارینه | ښځینه | تارینه | ښځینه |
| اصل تشکیل | ١٨٧٣ | | ٦٥٥ | | | | ٢٥٢٨ | |
| موجود | ١٥٥٤ | ١٤٨ | ٦٢١ | ٢٧ | | | ٢١٧٥ | ١٧٥ |

| | مرکزي کارکوونکي | | | | | | مجموع | ولایتي کارکوونکي | | | | | | مجموع | د بهرنیو نمایندګیو کارکوونکي | | | | | | مجموع | په رتب او معاش کې شامل کارکوونکي | | | | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مامور/ استاد | | اجیر | | نظامی | | | مامور | | اجیر | | نظامی | | | مامور | | اجیر | | نظامی | | | مرکز | | ولایات | | |
| اصل تشکیل | ٦٣٠ | | ١٩٧ | | | | ٨٢٧ | ١٢٤٣ | | ٤٥٨ | | | | ١٧٠١ | | | | | | | | | | | | ٢٥٢٨ |
| | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مجموع | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مجموع | مرد | زن | مرد | زن | مرد | زن | مجموع | مرد | زن | مرد | زن | مجموع |
| موجود | ٤٣٦ | ١١٧ | ١٦٧ | ٣٢ | | | ٧٤٢ | ١١١٨ | ٣١ | ٤٥٤ | ٥ | | | ١٦٠٨ | | | | | | | | | | | | ٢٣٥٠ |

## د ولایتي کارکوونکو برخه:

| موقعیت | د کارکوونکو شمېر | | | | | | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مامور | | اجیر | | نظامیان | | |
| | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | |
| کابل | | | | | | | |
| بلخ | ٥٤ | ٤ | ٢٢ | ٠ | | | ٨٠ |
| کندهار | ٣٤ | | ١٥ | ٠ | | | ٤٩ |
| هرات | ٥٠ | ٩ | ١٩ | ١ | | | ٧٩ |
| ننگرهار | ٦٨ | | ٣٠ | ٠ | | | ٩٨ |
| کندز | ٣٩ | | ١٢ | ١ | | | ٥٢ |
| بغلان | ٤٩ | | ٢١ | ٠ | | | ٧٠ |
| بدخشان | ٧٤ | ٢ | ٣١ | ٠ | | | ١٠٧ |
| لوگر | ٢٢ | | ١١ | ٠ | | | ٣٣ |
| غزني | ٣٨ | ٤ | ١١ | ٢ | | | ٥٥ |
| پروان | ٤٠ | ٢ | ١٦ | ٠ | | | ٥٨ |
| لغمان | ٢٣ | | ٩ | ٠ | | | ٣٢ |

| موقعیت | د کارکوونکو شمېر | | | | | | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مامور | | اجیر | | نظامیان | | |
| | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | |
| باميان | ٢٦ | ٢ | ١٢ | | | | ٤٠ |
| تخار | ٥١ | ١ | ٢٥ | | | | ٧٧ |
| جوزجان | ٣٨ | ٣ | ١٧ | | | | ٥٧ |
| کاپیسا | ٢٩ | ١ | ١١ | | | | ٤١ |
| پکتیکا | ١١ | ٠ | ٥ | | | | ١٦ |
| خوست | ٢٩ | ٠ | ١٢ | | | | ٤١ |
| کنر | ٤١ | | ١٨ | | | | ٥٩ |
| نیمروز | ١٩ | ٢ | ٨ | | | | ٢٩ |
| هلمند | ٣٣ | ٠ | ١٣ | | | | ٤٦ |
| فراه | ٣٠ | ٠ | ١٠ | | | | ٤٠ |
| سمنگان | ٢٨ | ٠ | ١٢ | | | | ٤٠ |
| غور | ٣٣ | ٠ | ١٢ | | | | ٤٥ |

| موقعیت | د کارکوونکو شمېر | | | | | | مجموع |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | مامور | | اجیر | | نظامیان | | |
| | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | |
| میدان وردک | ٣٠ | | ١٤ | | | | ٤٤ |
| پکتیا | ٢٩ | | ٨ | | | | ٣٧ |
| پنجشیر | ٢٣ | | ٩ | | | | ٣٢ |
| سرپل | ٢٢ | | ١١ | | | | ٣٣ |
| بادغیس | ٢١ | | ٨ | | | | ٣٠ |
| ارزگان | ١٧ | | ٥ | | | | ٢٢ |
| زابل | ١٩ | | ٨ | | | | ٢٧ |
| دایکندي | ٢٩ | | ١١ | | | | ٤٢ |
| فاریاب | ٤٨ | | ١٩ | | | | ٦٧ |
| نورستان | ٢١ | | ٩ | | | | ٣٠ |

### د ټولو ولایتونو مجموع

| مامور | | اجیر | | نظامی | | مجموع کل | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | نارینه | ښځینه | ښځې | ٣٦ |
| ١١١٨ | ٣١ | ٤٥٤ | ٥ | ٠ | ٠ | نارینه | ١٥٧٢ |